مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۸/۰۸

# رانه هېر شوی

ور روان دي قدمونه؛ د کور ور رانه هېر شوی
ژونده! ستا خو د کولو نور هنر رانه هېر شوی

خدایزده پاس پر تنه اینی و چي شته دی او که نشته!؟
غم د ځیري ګرېوانونو کي مي سر رانه هېر شوی

ملا وبورلمه بل خوا ؛ دا خو هغه لاره نه ده!
په زړګي کي مي د خدای د کالهٔ ور رانه هېر شوی

د غیرت په ښتو جوړ و؛ د ایمان په مسته ختې
ها بابا به چي پري وعظ کړ؛ ها ممبر رانه هېر شوی

زر ځل اوړد له صراطه او یو سل ځل تري نري ژوند
پخپل ځان کي رانغاړلی دی باور رانه هېر شوی!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ